# پرېشان تحرير



رحمت شاه سایل

نننـنـے انسـان پـه خپـله یو داسې پرېشان تـحـریر دے چې نۀ په افسانه کښې ځائیږي. نۀ په نـاول کښې. نۀ په ډرامه کښې ځائیږي. نۀ په تکل کښې. هـغـه لکه د شوکیدلي امېل داسې تس نس شـوے دے چې اوس بـه پسې ټـولـه دنیـا چاڼول غـواړي. او ټوله دنیا چاڼول په عمل کښې خو خود مشـکل کار دے په خیال کښې د هغې نه هم زیات مشـکـل دے. نـنني انسان ته انسان وئیل هم ژبه پـولـۍ کـوي. او انسـان لیکل خو ور ته داسې دي لـکـه سړے چې د چړو پـه ځـوکو په خپل زړۀ د چا نوم لیکي.

د کـور کـرایـه، د بـجلۍ بل،د نلکې بل، د ګیـس بـل، د اوړو تـروړه، د چـایو پتې، د وړو د کتابونو بل، د وړو د کرایې بل، د اوړي د جامو غم، د ژمـي د جامو غم، غم غم، غم ښادي، روري عزیز ولي، سل روپۍ دیاړي، د ګرانۍ کاواکې او د بجټ سپېرې او بې روزګارۍ نوکارې د سړي نه ځومره بـلاګـانې او ځومره قاتلان چارچاپېره ولاړ وي. په دغسې سړي کښې بـه د ادب ذوق څنګه پېدا شي. دے بـه د مـوسقۍ په خوند رنګ څنګه پوهه شي. پـه دۀ کښې بـه د کـوم ثقافت د ګلونو تخم زرغون شـي. او دے بـه د کـوم ثـقافت د تماشې نه د خوند اخسـتـو سـره پـه تـماشه کښې په خپله د یو کردار تماشه شي. نـنني انسان ته ئې کۀ زۀ. زۀ او تۀ څه یـو. ځـوک یو. یو بل ته ګورو. یو بل وینو او د یو بل نه ورک شو!! دا حال او حالت ولې دے؟ دا کیف

او کیفیت زمونږ دواړو خپله کمزوري،خپله خطائي اوخپله ګناه ده. کنه دا لکه د انجیکشن زمونږ دواړو روحونو ته را داخله کړے شوے. د بې هوشۍ هغه دوائي ده چې د علاج دپاره نۀ ده. د بې هوشۍ دپاره ده. څکه مونږ دواړه لکه چې د بې هوشۍ په حالت کښې یو. زۀ تا ته ګورم. تا وینم خو محسوسولے دې نه شم. تۀ ما ته ګورې ما وینې خو لکه چې تۀ هم ما نه شې محسوس کولے. دا ولې؟؟

چې دا لفظ ما ادا کړو چې ولې؟ که نه تا اووې چې دا ولې؟ دا خو د هوش د حالت او کیفیت سوال دے که دا لفظ چا اورېدلے وي نو دغه نشه به ناکافي وي. او مونږ به دواړه د خارج نه د خارج کولو په غرض په داسې نشه واړوي چې د هوش د کیفیت او حالت دغه د سیکنډونو په حساب وخت به هم زمونږ مهربانۍ ته پرې نږدي. اوس لکه چې د مهربائۍ او احسان دپاره زمونږ وجودونه او روحونه ممنوعه علاقې دي. اوس لکه چې زمونږ د بدنونو او روحونو د علاقې د حدودو نه بهر ښاردار تارونه لګېدلي دي. تا یوه ګناه کوله ما بله. تا به ډرامه لیکله ما به افسانه. تا به ناول لیکلو ما به تکل. تا به نظم لیکلو ما به غزل. د دې ټولو صنفونو دننه به خبرې وې. فلسفې او تکلونه به وو. پیرزوینې او پیغامونه به وو. تۀ ماسټر کریم وې زۀ مهدي شاه. تۀ ډاکټر اسرار وې زۀ اندېش شمس القمر. ته سلمان لائق وې زۀ اجمل خټک. ما وې ,,زۀ افسانه نشم لیکلے،، تا وې لیکوال مړ شو،،. چرته چرته مړ شو؟ کوم کوم ځائې نۀ ؤ چې هلته مړ نه شو.

مرګ مېلمه دے اے اندېشه د احساس تر طبیعته
چاله ورځ کښې څو څو ځله چا له ژوند کښې یو وار راځي

دا زۀ او تۀ چې یو بل ته ګورو دا مړۀ یو کۀ ژوندي؟؟ والله عالم. چې مړۀ یو کۀ ژوندي. ژوندي خو یو خو چې ژوند مو د ذلالت کوم موړ ته رسول غواړي. مړۀ هم یو خو چې په کوم مرګ مړۀ یو او څلي مو چرته دي. او په څلو مو کتبې شته کنه. چرته دا نه نیمه شعر پرې چا لیکلے دے که نه؟ چرته پرې چا مشاعره راجوړه کړې ده که نه. زمونږ خو هم په ډېرو ژوندو او ډیرو مړو بدلې ورپورې دي؟ تا به وئیل چې دا ټولې فلسفې به یوه ورځ په یوه ادبي مافیه کښې بدلے شي. او د تحریرونو بدنونه به د ادبي کرپشنونو جامې واغوندي. نن به ئې شنې جامې کړې وي. سبا له سرې. بله ورځ تورې برګې. لا بله ورځ زیړې برګې او داسې به هیڅوک نۀ وي چې د روح نه ئې کم از کم دا غږ خو اوخېژي چې :

کګې وګې شملې شوې ډېرې
اور دې پرِ پورې شي خپل یار نه پېژنمه

تا به لکه د خاطر کله کله وئیل چې :

که دِ غم په ما امبار وې پروا نشته
د ګلونو لاندې څانګه نۀ ماتېږي

ما ته پته نشته چې دا غم به تا ولې خوړو. او دې

غـم بـه تهٔ ولې خوړلې. ما به تا ته کله کله ووئيل چې :

پـه سـر ئې ګـرځـولـي يو بازار په بازار
مـونږ ژونـد کړے د داسې خريدار په بازار

تـا بـه اوخـنـدل. نن د نشې د حالت او کيفيت نه د يـوې لـمحې دپاره هم دې سترګې اونه غړولې چې دومـره خـو دې را تـه پـه تـنـز په خندا کښې او په تـنقيدي لهجه کښې لکه د ډاکټر صابر وئيلے وے چې دا د عـلـم او فـلـسـفې خبرې دي پـه دې کښې ګـوتې مه وهه. او يا دې را ته وئيلے وے چې دا دې څه ګډې وډې روانې کړي دي. دا خو نه قيصه ده نه داستـــان. نهٔ ډرامـــه ده نهٔ نـــاول. نهٔ تـکل دے نهٔ افسـانه. دا څه دي؟ او چې دا را ته تا اونه وې نو زهٔ در تـــه څـــه اووايـم. خـو بـس تهٔ هم لکـه زمـا يو پـرېشـانه تحرير ئې او زهٔ هم لکه ستا يو پرېشانه تحرير!!!

او او زهٔ او تهٔ پـرېشـانـه تـحريرونه خو يو يـو... خـو بـل غـضب دا دے چې پـه پښتو کښې يو... د پښتو او پښتنو د بې ګانګئ (پردي والي) دا حـال دے چې نـور خـو پرېږده د پښتو او پښتنو ډېر خوا خوګي هم ډېر په فخر وائي چې مونږ له خو پښتـو نهٔ راځـي. که دې ور ته اووې چې انګريزي درځي. نو هم ترې خبره په مرۍ کښې اونخښلي. غـم شي ورسره چې هسې نه په انګريزۍ کښې را نـه امتحان وانه خلي!. څه لږه لږه راځي. که ور ته اووائې چې پښتـو لږه لږه هـم نهٔ درځي. نو اووائي ښـخـي نه راځي. کهٔ د ولې تپوس ترې کوې وائي بـه زمـا نـه بدله ده. ګويا زمانه لکه چې هم د دهٔ په لاس کښې ده. او د دهٔ نـــه بـغـېـــر يـو ګـام نـه شي اخستے. د يو نه مې تپوس کړے ؤ. ما وې نو تا ته هيڅ نـدامـت نهٔ کېږي. وې دې کښې د نـدامت څه دي. پښتـو نهٔ ورتـلـــه. خـو د خـوشـحال بابا يوه مصرعه ئې زما دپاره زده کړې وه. وې :

هر سړے پېدا دے خپل خپل کار لره کنه!

مـا چې ځـان تـه اوکـاتهٔ او پـه ځـان او تا مې سوچ اوکړو. نو دې نتيجې ته راورسېدم. مونږ د پښتو ليـکـلـو دپـاره پېدا يو. او دے زمونږ د نمائندګۍ دپـاره . زمـونږ کار نن هم د دهٔ د کار تعريف ليکل دي او سبا له هم د دهٔ په خدماتو رڼا اچول!! زهٔ او تهٔ يـوازې پـرېشانه تحريرونه نه يو. غلط تحريرونه هـم يـو. خـو دا ښـــه ده چې مـونږ پـه خپلو غلطو تـحـريرونو څوک غلطولے نه شو. ځکه چې څوک پـه پښتو نهٔ پوهېږي که نور هيڅ نهٔ وي د ندامت د احساس نه خو بچ يو کنه.

تهٔ زمـا دپـاره پـرېشـانـه چرتـه نـه شې
زهٔ د لـوستو نهٔ يم پرېشان غوندې تحرير يم

☆☆☆